# افغانه !

زما د دواړوسترګوتورافغانه
زما تورزن ، زما باتورافغانه

په زړه کی څو وړې پوښتنی لرم
درنه ځواب غواړم ضرور افغانه

داکوم غیرت،کومه میړانه ده ستا؟
چی پخپل لاس وژنی خپل وررافغانه

تا پدی کارکی څه ثواب لیدلی؟
چی ژړوی دی خپله مورافغانه

تا پدی غم کی څه خوښي لیدلي ؟
چی کونډوی دی خپله خورافغانه

پدی ورانیوکی دی ګټه څه ده ؟

چی ورانوی دی د پلارکورافغانه

وایه چی چا درباندی کوډي وکړل؟

چا کړی جنګونوته مجبورافغانه

تا خو له شانه په چا وارنه کاوو

له چا دې زده کړواوس ټُورافغانه؟

==============

تا خو د ځان په ضد قیام کړیدی

ځانته دی جوړکړوسترپیغورافغانه

الحاج الهام الدین قیام

30/05/2015